# نه هیرونکي سړي

# کندهاری مخلص

حاجي ولي محمد مخلص دوه ويشت کاله دمخه زموږ څخه په ابدي جسمي فراق جلا سوی دی خو د ده روح او فکر او په پښتو ژبه کي د ده جاويدان اثر تل ژوندی دی، مخلص زموږ د ادبي مرکې روڼ څراغ او په کندهار کي د نوي فکر او تجدد پر آسمان ځلاند ستوری و. دا سړی زما د ځلوېښتو کالو خواخوږي اشنای او په ادبي حرکت او ژبني فعاليت کي تکړه ملګری و. دی شاعر و، خو په حقيقي ډول د زمانې ترجمان او لسان العصر و، عالم و ليکوال و، جهانديده او په څو ژبو پوه و، نقاد و، ظريف سړی و او بالآخره مخلص و.

د مخلص نقاده اما ظريفه طبعه مشهوره وه په کندهار کي خپلو ښاروالو مخلص دوست او د رهنما په ډول پېژاند، د خلکو سره محشور او خواخوږی ملګری و هر ځای او هري طبقې دی په دغو صفاتو پېژاند، په ادبي جرګو کي صدرنشين و، د عوامو په مېلو او دېرو کي محبوب و، خوږې خبري او د ظرافت وېناوي يې هر چا خوښولې، په علمي او اجتماعي خلکو کي يې خپل شخصيت ښووی، له موسيقۍ سره يې مينه درلوده او کله کله به يې خپل خواږه شعرونه د ميوزيك په پردو کي ږغول، فصيحه او بليغه وينا يې درلوده، د دين او اجتماع په اسرارو خبر و، د عصر او تمدن د ښېګڼو مبلغ و د اخلاقو زاړه مواريث يې د غور په سترګه ليدل. مخلص دېرش کاله پخوا په پښتو ادب کي د انتقاد روح پو کی او دا سړی طبعاً د ظلم او اجتماعي اعتساف مخالف و د خلکو خواخوږی او په خپل ادب کي د اداري فساد او عننوي کرغېړنو پر خلاف يې تکړه جهاد او عنيفه مبارزه شروع کړه، د رشوت خورو او ظالمانو دښمن و، د اجتماعي بې عدالتيو او پړسېدلي ثروت پرده درو و او د بدو عنعنو او رواجو سخت مخالف و.

د مخلص شعر د دغو اجتماعي مفاسدو په مخ کي يو د احتجاج آواز و او د خوږمن زړه د يوه شريف او رفيق احساس ترجماني وه مګر دغه تکړه احتجاج د خلوص او اخوت او همدردۍ سره ملګری و، دی وايي :

اې زمـــــا زړه ته راتېر وروه پښـــــتونه
ولــي پروت يې په غفلت کي سرنـــګونه
په کــــار نه دي دا اوږده درانه خـــــوبونه
پاڅه وېښ سه په همت وکـــــــړه کارونه
کـــــړه ودانه د وطـــــن خــــــرابه خونه

ته په خپل وطن کي خپل يې پردی نه يې
د سر سترګي يې د پښتو اغزی مو نه يې
په خـــدمت د قوم بادار يې مــريی نه يې
او کـــه نه موږ ږغ کـــوو چي سړی نه يې
راســـــه چيري ځې خالي کوټ او پتلونه

که خائن او نفس پرته رشـــــوت خور يې
يا آزار کــــــوې رضا په شر و شـــــور يې
يوه ورځ به شـرمـــــــنده ولاړ مخ تور يې

یا به پاته وي دنیا ته به په ګـــــــــور یې
ډېره وه یې خدای دي خسف که قارونه !

د مخلص شعر د عصر هنداره ده، او په هغو واقعیتونو اړه لري چي روزمره د خلکو په ژوندانه کي لیدل کېده، د ده له نقاده نظر جزویات هم نه پټېږي او د پښتنو هغه لوړي خبري چي بالآخره غر ورته رسېږي په سخته انتقادوي او دوی خپل اوسني کښته والي ته ملتفت کوي :

اې پښـــــــتونه ! پروت یې ناخبر پر څه؟
هسي ګـــــرځې بې پروا ابتر پر څــــــــه؟
یوه ورځ تر بلي ســــــوې بتر پر څـــــــه؟
لــــــکه وچه ونه بې ثمر پر څـــــــــــه؟
بې حاصـــــــــله وایې فـــــیل او غر پر څه؟

په دغو اصلاحي انتقادوکي حتی هغو اوضاعو ته هم ګوته نیسي چي خلك په بازاروکي د ترافیکي قوانینو مراعات نه کوي او د خطرناکو عرادو په مخ کي ځغلي او راځغلي :

په دا لــــــس کالې در وښووه عاقـــــله !
چي پر لاس سم څه ! له دې مه سه غافله !
هدایت د حـــــــکومت ولاړ بې حاصــله !
د پولیـس نوکان دي وایسته جاهــــله !
ته لا درومې پـــــر لار لـــــــر و بر پر څـــــــه؟

مخلص په آزاد پېشو ژوند تېراوه کله نجار وکله سوداګر و، اوکله دکاندار. کله به د لږ مال التجاره سره په کلیو او دېروګرزېده او په دې وړه سوداګري کي به یې هم خپله حلاله روزي ګټله او هم به یې خلکو اوکلي والو ته د ژوندانه لاري چاري ښوولې. د حکومت مأمورین اوکارداران به یې د خلکو خدمت او اجتماعي سمون ته رابلل او د بدو اعمالو نتایجو ته به یې ملتفت کول، مثلاً وایې :

له حســـــده که ولاړ سې څـــوك زهیر کړې
یو غریب سړی په خاوروکي خـــمیر کـــړې
یا نسبت چا ته په لـــفظ د تصغیر کــــړې
موږ دي څه کوو لالا، ځان به تحقیر کړې
خوار بنده یې ځان دي جوړ کې اسمان ولې؟
نن که ظلم پر مظـــــلوم وکـــــــــړې تېرېږي
نتیجه یې آخـــــــرت ته پاته کـــــــــېږي
د بد تخم ښه حاصل نه اخیست کـــــــېږي
مـــــکافات د عــــــمل هر چـــا ته رسېږي
شرموې ځان د رشتـــــــــیا پر مــــیدان ولې؟
د عیال رازق دي خدای دی بې همته
راسه تېر سه له مردار منحوس رشوته
ته بې واخلې بل بې وخوري بې محنته

د قیامت جواب پر تا دی بې غیرته

خرڅوې د بل دپاره ایمان ولي؟

مخلص ډېر دغسي مخمسونه او مسدسونه لري چي ټول اصلاحي او انتقادي دي مګر د ده په فن کي په سوو مردف څلوریځ شعرونه ډېر درانه او خواږه دي هره څلوریځه یو بېل اجتماعي او اخلاقي موضوع ده چي ټول په ژوندانه او اجتماعي حالت اړه لري او یو څو څلوریځي یې دلته د مثال په توګه راوړم :

د ځان لیدلو نتیجه

ماته ســــوه یوه هــــنداره په حسرت

ټوك ټوك پروته وه په خاوروكي لت پت

ځان لـــیدونـــكو یې په حال سره ویل

راته وګــــــورئ په ســـترګه د عبرت

د نفاق پای

هــــغه قام به تل اخـــته وي په بد رنځ

چي نفاق تـــوره بلا یې ور تر مـــنځ

سره غـــونډ د سر وېښــتان چي بېلوي

خـــدایه ! ماته لا لومړی كړې هغه ږمنځ

تیك مغزی

ولي لــــږ لوړتیا د وخت كړې هسي شوخ

چي په تیك مـــغزي دی زړه د هر چا پوخ

لیده ســـوي تا رنګ ډېر چي سي بېـكار

غـــلی غـــلی ځي پر لاري باندي چــــوخ

لږ ظلم او ډېر ورانی

چرته خدای كه دي تر نورو كړي لږ غټ

نو په ظـــلم قـــورمې مه غواړه پر بټ

څــــو ستا نس و ته درلوېږي تر هـــغو

زر كـــــورونه به خــــپاره سي لكه مټ

د پزي پرچ

ته چي تل كــــړې پر غریب د پزي پریچ

له تریخوالي ســــتونی سوځي لكه مرچ

یوه ورځ به په ســـوكه دكوم مــــېږه

په غـــوړ واورې د مغزي د هـــډو خـــرچ

❈ ❈ ❈

په دې ډول اروابناد مخلص، د پنځوسو كالو د مخنیو اجتماعي اوضاعو او اخلاقي فسادو او د ټولني د

کرغېړنو یو مخلص نقاد او د پښتو ادب پر آسمان یو ځلاند ستوری و او په دغه پېړۍ کي د پښتو د انتقادي شاعرۍ استادګانه سي او هیڅکله د ده ادبي فعالیت او فکري تخلیقات نه هېرېږي.[۱]

(۱) کندهار مجله، ۱۳٤۲ ل کال، ۸ مه ګڼه، ۲۹ _ ۳۱ مخونه.